# هوپو تعليمي کيسې

## نيم هلک

## کاغذي پاکټونو ناڅکه





**مواد چې اړتيا به ورته ولرئ:**
غرمې ډوډۍ اندازه کاغذي پاکټ، رنګه پنسلونه، کرايون (د موم رنګی)، مارکر، ثليبش، نښلوونکي خپروونکی، رنګه جوړښتي کاغذ يا کارتونه، سکاش ټيپ، کيچی، سټيپلر، د ميزونو لپاره اخبار.
**اختياري:** کاغذي دستمال، راتاوونکی کاغذ، د سودا پخوانۍ خلتی، پاپيونو پاکوونکي، تاوونکی، مرۍ (مشکنۍ)، تنۍ، د ټوټو چنډۍ، د وېښتو لپاره تارونه، پلاستيکي سترګی، او نور



پر لاس د خلتې/ پاکټ راکاږلو سره، د ناڅکې خوله وخوځوئ.



۱. د پاکټ/ خلتی د رپانده کاغذ په اندازه کارت يا جوړښتي کاغذ ټوټه راواخلئ، د پوره هلک مخ پاسنۍ برخی (سترګی، غوږونه (که پکار وي)، غومبوري او پوزه) رسم او رنګه کړئ. يا، پر پلاستيکي سترګو، رنګه کاغذ سترګو او غومبورو او نورو ثليبش کړئ. کله چې رسامي وچه شي، مخ پرې کړئ.

**د نيم هلک مخ لپاره:** بله رنګه جوړښتي پاڼه راواخلئ، د مخ ښي لوری يې خاکه او پرې کړئ. يو لور ته يې کيږدئ (مشوره: د ټول هلک ټوټو سينګارولو وړاندی، د نيم هلک پر پاڼه هغه خاکه کړئ، ورپسې يوازې د هغې مخ، خولۍ او چپنی ښي لوری پرې کړئ).

۲. د ټول هلک خولۍ پر جوړښتي کاغذ خاکه کړئ – د هغې پراخوالی د مخ په اندازه دی او لوړوالی يې ۲ – ۳ انچه (۵ – ۷ سانتي متره) دی. ټوله خولۍ د رنګه کولو، ډيزاينونو جوړولو يا ښکو پر کارولو، زر زريو يا پخوانيو ټوټو يا رنګه کاغذ پر کارولو سينګار کړئ. له همدی جوړښتي کاغذ څخه نيمه خولۍ لکه د لومړي ګام نيم مخ په څير جوړ کړئ. نيمه خولۍ ټوټه سينګار نه کړئ.

۳. په لومړي ګام کې ټول جوړ شوي مخ دپاسه ټوله سينګار شوی خولۍ ثليبش کړئ. کله چې وچ شي، ټول مخ/ خولۍ (يوځای) د کاغذي خلتی/ پاکټ رپانده کاغذ پر پاسنۍ برخه ثليبش کړئ (پام مو وي چې رپانده کاغذ لاندی ثليبش نه کړئ). وچ يې کړئ. نيم مخ او نيمه خولۍ يوځای ثليبش کړئ تر څو پر ټولی ټوټی دقيقاً يوشان راشي او وروسته لپاره يې يوې ډډې ته کيږدئ. نيم مخ/ خولۍ پر خلته/ پاکټ مه ثليبش کوئ.



۴. **د پوره هلک چپنی او تنی لپاره:** د جوړښتي کاغذ پر کارولو، تاوونکي کاغذ يا ديوال کاغذ چې تقريباً د کاغذي پاکټ/ خلتی اوږدوالي په اندازه وي، د نيم چپنی رسم او پرې کړئ. پر رنګه کولو او کمربند پر ثليبښولو، مشکنۍ، تنيو، إضافي کاغذونو، زرزريو، ټوټو چنډۍو او نورو پر ډيرولو يې ښايسته کړئ. وچيدو ته يې پرېږدئ. دوه لاسونه او دوه بوټان له رنګه کاغذ پرې يا يې له خوښې سره سم رنګ کړئ. د چپنی/ جامو شاته يې ثليبش کړئ.
د نيم هلک تنی برابرولو پر مهال يې يوې ډډې ته کيږدئ.

**د نيم هلک جامو/ چپنی او تنی لپاره:** د نيم هلک جوړښتي کاغذ پر کارولو، د چپنی/ جامو نيم پرې کړئ. د نيم هلک کاغذ پر کارولو يو بل لاس او بوټ پرې کړئ (مشوره: د ټول هلک تنی شاوخوا کيڼ لاس او کيڼ بوټ خاکی په توګه رسم کړئ). د نيمی چپن/ جامو شاته لاس او بوټ ثليبش کړئ، په هماغه ځايونو کې چيرې چې مو د پوره هلک ټوټی ثليبش کړی وی. (د نيم هلک ټوټی بايد د پوره هلک ټوټو دقيقاً نيمه برخه پټه کړي – پر بله پاڼه رسامۍ وګورئ).



۵. د ټول هلک تنه (چپنه/جامی، لاسونه او بوټان) د خلتی/ پاکټ مخی پورې ثليبش کړئ، پام مو وي چې د پاکټ رپانده کاغذ لاندينۍ برخه ثليبش نه کړئ تر څو پاکټ/ خلته بنده نه شي.

د ناڅکو او توکو نظرونو لپاره، بله پاڼه وګورئ.

نيم هلک، د ۲۰۰۷ کال چاپ حقوق، د ادريس شاه شتمني/ دارايي

## د نانځکو ډرامې/ تياتر نظرونه/ مفکورې

- پر ميز سرميزي يا ټوټه واچوئ او زده کوونکي د ميز لاندې کښيني او خپلې نانځکې د ټوټې له لاندې راباسي او غږيږي.
- (د برقي سامانونو کارتنونو په څېر) لوی کارتن مخ کې څلور کنجه کړکۍ ورکړئ، او "سټيج" دروازه شاته ورکړئ. يو يا دوه زده کوونکي په کارتن کې کينوئ تر څو خپله ډرامه/ تياتر وړاندې کړي.
- يو بل ته مخامخ چوکۍ کېږدئ، او له زده کوونکو وغواړئ مخامخ کيني او خپلې ډرامې اجرا کړي. دا نانځکې د ډرامې په مرکز يا زيرمه ځای کې وساتئ تر څو هر وخت چې اړتيا وي، لاسرسی ورته وشي.

۲. د کاغذي پاکټ نانځکه د پاکټ رپانده کاغذ لاندې، پر توره څمکه/ پس منظر سرې ژبې پر رسمولو يا څليښولو پای ته ورسوئ. نور مواد لکه توره، جادويي دوا بوتل، ښاپيرۍ، ديګ، او نور رسامي او پرې کړئ. نور لوبغاړي لکه ملکه، باچا، او طنين ښامار جوړ کړئ (لاندې نظريات وګورئ).

**د ټول هلک نيم هلک کول:** د نيم هلک سر د پاکټ/ خلتې پورته نښلولو او پوره تنې دپاسه د نيمه تنې نښلولو لپاره کاغذي سنجاق وکاروئ (که د ويلکرو فيتې وي هغه وکاروئ) (پر پخوانۍ پاڼه عکسونه وګورئ). د لوبې پر مهال دا ليرې کيدای يا بدليدای شي.





**د لرګي ښاپيريو نانځکو لپاره** کارت کاغذ کاريدلی او پرې کيدلای شي. ښاپيريو وزرې د پاپونو پاکوونکو د وزرو په توګه پر تاوولو، او پرې پلاستيکي پوښونه يا پر کاغذي دستمالونو څليښولو او وزرو په څير پر پريکولو جوړيدای شي. يو څه زرې پرې وردېر کړئ تر څو نور هم جادويي شي. د پرې شوو شاته وزرې ټيپ يا څليښ کړئ.

د ښاپيرۍ شاته لښته يا پنسل ټيپ کړئ او کرار يې وخوځوئ تر "والووزي"











له استعمال وړاندې نانځکې وچيدو ته پرېږدئ. ځينې وخت د ټينګولو او ثبات لپاره لږ إضافي څليښو يا سټپلر سنجاق ته اړتيا وي.

**ښه وخت ولرئ!**